مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۴/۰۵

# غزل

لا یو تت ستوری ځلیږم په اسمان کښې
لا د ژوند نښې لرمه په خپل ځان کښې

زه په ډکو سترګو ستا لاره څارمه
چې لاهو کړم ځان د اوښکو په باران کښې

زه د جنګ لمبو سېزلی یمه داسي
چې ثاني مې پېدا نه شو په جهان کښې

د لاله ګلو مې رنګ د وینې واخیست
سره غاټول مې ټوکېدلي بیابان کښې

د تقدیر په ځنځیر بنده پسرلیه!
د ژغورنې لار پیدا کړه دې فغان کښې

مصطفی پسرلی
04/04/2019


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ